**دانټرنیټ دفارسی سرچینوڅخه**
**ژباړونکی ؛ عزیزاحمد خوارمل**

# ناټو« NATO »
# او
# دناټو« NATO » پیژندنه !



## لسمه برخه

## ناټوپه يو نوي ازموينه کښېي !

**دپخوانی شوروي اتحاد دړنګیدوسره سم دوارسا (ورشو) نظامی تړون هم دمنځه ولاړ،اوناټوخپل اصلی کړنی چې په مخ کې يې درلودل هغه يې دلاسه ورکړ. ددغه دلیل پربنسټ داتیاومی (۸۰ ومی ) لسیزی په پای کې دنهویومی(۹۰ومی ) لسیزی په لومړیوکې ،دسیاسی اوامنیتی چاروډېرکارپوهان داهسی سترګې په لاره اومنتظر وو چې ګواکی دناټودنظامی تړون په منحلولو اوپه دمنځه وړلوسره ،یونوی امنیتی چوکاټ داروپا اوامریکا دپاره به جوړ اورامنځته به سی .** په هغه وخت کې په دی اړه ، دناټودراتلونکی دپاره دوه ډوله لړلیدامریکایی اواروپایي لړلیدونه رامنځته اوانځورسول .اودواشینګټن دجګړوروچارواکو لخوا دناټوپرژوندی پاته کیدلوباندی،اوددی نظامی تړون دپخوانیوکړنوپه ترسره کولو کې **په** یولړبدلونوسره دامریکا ترلاربشودنی لاندی پری ټینګار وسول .

دبله خوانه يو بل لړلیدخصوصآ داروپايي دولتی واکدارانواوچارواکوپه منخ کې وروسته دماستریخت دتړون نه چې په (۱۹۹۲) میلادی کال کې جوړ اورامنځته سو او ددی تړون پربنسټ باندی دغه بحث وړاندی او رامنځته سوچې اروپایی هیوادونه دیوی دفاعی او امنیتی جوړښت په غښتلی کولو اوملاتړسره ،دناټوڅخه جلااو ځانګړی امنیتی جوړښت په اروپا کې راجوړ کړی اودغه جوړښت وکولای سی چې داروپا داتحادیی امنیت په خپله په یوازی توګه سره ونیسی اوامنیت يې تامین کړی . د(۱۹۹۱) میلادی کال دجنوری په میاشت کې دیوی اعلامی په تصویبول سره ، دغه

دلړليدونوتوپيرونه دامريکی دلړليدپه ګټه ديولړبدلون سره پای ته ورسيدی . په همدی ډول سره پريکړه وسوه چې ناټودی څه ناڅه ديوسرليک لاندی داروپايی اصلی امنيتی فعال ارګان په توګه دی پاته سی اودهغه ترڅنګه اروپائيان وکولای سی خپل امنيتی اودفاعی سياست (EPSP) پرمخ بوزی . ټول نهويمه (۹۰ومه )لسيزه ددی بحث سره مل وو چې اياناټو کولای سی نوي امنيتی بدلونونه اوهغه خنډونه چې په راتلونکی پيری کې په مخ کې لری وهغه ته دی ځواب ورکړی ؟ ځکه چې دناټو جوړښت ددفاعی محورپه توګه سره رامنځته اوجوړسويدی اودهمدی بنسټ له مخی بيله کوم جوړونکی کړنواوړين اوګټور کاره څخه دنويوګواښونود مخنيوی اودمنځه وړلودپاره لکه ټروريزم ،دهسټوي اواټومی وسليود خپريدواودهغه دپراختيا څخه مخه نيوی،دقانون ماتوونکودولتونو دخطرپه وړاندی دريدل ، دکورنيو ناآراميواوناامنيو دمنځه وړل اوپه همدی ډول سره ديوشميرنوروواړينو مسائلو..... څخه عبارت وو.

په دی لړکې، دناټودپاره دکړکيچ مديريت کول ديونوي کاره ونکی سرليک په توګه تعريف سو.دغه نظامی سازمان د(۱۹۹۰) بيا د(۲۰۰۱) ميلادی کال په ترڅ کې بل ځل دناټو درول په تعريفولوسره په نړی کې ترسړې جګړی راوروسته څرنګه وکولای سی چې ددغه نويوپيچلی ګواښونوپه وړاندی،چې په ټينګه سره دلويديزی نړی امنيت يې دخطر سره مخامخ کړی،بريالی ځينی راووځې ،نوددی سرليک په تعريفولو يې لاس پوری کړ. په همدی ډول سره ناټودنويو ادبياتواوکاره ونکو نويو نوښتونوپه رامنځته کولوسره زيار يې وايست نه يوازی داچې خپل دشتون دلړرنګه کيدلو دفلسفی څخه يې مخنيوی وکړ،بلکی په دی وتوانيدی چې په همدی ډول سره ديوی امنيتی نظامی لوړمقام لرونکی سازمان ترسرليک لاندی دنړی په سطح کښې په رول لوبه ولوسره لاس پوری کړي .

«دسولی دپاره دګډون»،طرحه اووړانديز (Partnership For peace)چې د(۱۹۹۴)م کال کې دشمالی اتلانتيک دنظامی شورا(دناټوداصلی رکن )په توګه سره په تصويب رسيدلی وو ،په رښتيا سره ودی اړتيا ته يو ځواب وو .په اروپا کې ديوګسلاويا دکړکيچ رامنځته کيدل دوه مهم پړله پسی اړخونه يې درلودل چې د دواړوپړله پسی اړخونو نتيجه دامريکا اودناټوترمنځ خبراتری يې غښتلی کړاوددی نظامی سازمان کارکول يې وروسته تر سړې جګړی په نړی کې دامريکا ترلارښودنی اومشرتابه لاندی ګټورثابت کړ.

دامريکا ترمشری لاندی دناټولومړنی کړنه مداخله اولاسوهنه په کوزوکې دصربستان پرضد وو چې دغه ځوانه اروپايي اتحاديه اودهغه دفاعی اوامنيتی ځوان جوړښت لاپوره ومړانې اوپوخوالی ته نه وورسيدلی له همدی کبله دناټووولارښودنی ته اودامريکا وملاتړ ته يې اړتيا لرله . اودناټودوهمه کړنه دنويو کاره ونکی مهارتونوثبوته ول دناټوپه اړه د نړيوال کړکيچ په مديرت کولوکې څرګنده سوه .

ناټوپه رښتياسره دکوزوپه کړکيچ کې وکولای سوچې دا ټکی په ثبوت ورسوی اووی کولای سوای چې دملګروملتونودسازمان دامنيتی شورا ترڅنګ ديوی اجرائيوی مرستندويه په توګه اووسی اوداړتيا په وخت کې دندی ترسره کړی .
کــه څـــه هــم دنـــاټو دغـــه رول اونـــوی کـــاره ونـــی دکـــړکيچ پـــه مـــديريت کولوســـره دغيرلويديزواکمنوهيوادونولخواپـه اسـيا اوروسـيی کـي دنوروهيوادونوپـه کـورنی چـاروکي يوبـل ډول لاسـوهنی وبلـل سـول اودامريکـا دپـری غوښـتنی تفسيرسولي ،مګردغـه انګيرنـی اومخالفتونـه دونـی ګټوروثابت نه سول اوناټوپه عمل کې وکولای سو دمديريت په کولوسره دنړيوالوکړکيچونوپه منځ کې ،دخپل ځان په تعريفولواورول لوبه ولوسره بل ځل په نړی کې وروسته دسړی جګړی نه،په برياسره عمل وکړي .

## تفليس دناټو دپراختيا اړه دختيځ پرلور:

د(۲۰۰۸) کال داګوست د(۱۸می ) اتلسمی نیټی نه مخکې ،کوم وخت چې دګرجستان ددفاع دوزارت قوماندانانودروسیی په سویل کې دقفقاز په غرنیوسیموکښې ځای پرځای سول ،اوپریکړه یې وکړل چې دسویلی اوستیای په نوم پرخپلواکه سیمه باندی یرغل وکړي ، اوواشینګټن هم دنظامی پلوه په ګرجستان کې ډیرپه ښه توګه سره یې شتون درلود. دګرجستان دډېر ښه سازمان ورکول سوي یرغل په ترځ کې یې تسخینوالی،دسویلی اوستیای پلازمینه یې دډېروساعتونودپاره په اورکې وسوزل او ددی ښار ډیر جوړښتونه ،تعمیرونه اوبیلډینګونه لکه پارلمان،پوهنتون،اوروغتونونه یې وران کړ.داسوشیټدپرس دیورپوټ پربنسټ چې دخلکوسره یې مصاحبی ترسره کړی وه لیکی : ډېرلږ ساختمانونه اوجوړښتونه په دی ښارکې روغ پاته سویدی .

ادوارد کوکویتی دسویلی اوستیای دولتی مشر وایی ډېرتره تردووزرو(۲۰۰۰)ددی ځای اوسیدونکی په دی تیری کوونکی جګړه کې ووژل سول .

همدارنګه رویترزهم د۲۰۰۸ میلادی کال داګوست پر(مه ۱۸) اتلسمه نیټه باندی ولیکل : روسیی ځواکونه وروسته ددی تیر ی نه دګرجستان دځواکونونظامی اډي ،هوایی ډګراوپه تورسند کې د«پوتی» پر بندریې یرغل وکړ،که څه هم دامریکی ډېری خبری رسنی دخبرونوپه تعریفول سره غوښتل چې ووایی : روسیه دګرجستان سره یې جګړه پیل کړی دی . اوپه سل ګونی مقالی په مفصل ډول سره دګرجستان داهمیت په هکله دیوی استراتیژیکی هیواد اوځای په توګه اودخزردسیندڅخه دتیلواوګازو دانتقالودپاره څو ورځې په پرله پسی ډول سره خپریدل اولیکل کیدل اودګرجستان د هیوادنه خبری کیدل ،مګرهغه لږلید چې دغه مبنته اوجګړه دامریکا داسترتیژی دپاره په دی استراتیژیک سیمه کښې اړیکی ورکوی ،ډېرلږ مطرحه سویدی . په داهسی حال کې چې روسیه دیوه داهسی جګړی څارونکی دی چې دهغه په پلو(سرحداتو) کښې دغه جګړه جریان لری اودنړی توجویې هم ځان ته را جلب کړی دی .

# دلویدیزسره دګډاردودځواکونودجوړه ولواودرامنځته کولوطرحه :

دهغه وخت څخه چې دلویدیز ایډیا په کیف اوتفلیس کې دلیبرالو دولتونودجوړه ولو اودرامنځته کول موخی وي اوپینتاګون دنظامی اډی دجوړه ولو په سوچ کې دپخوانی شوروی په دی مهمو سیموکښې ولویدی .ځکه دسپینی ماڼۍ هوښیار اوزیرک کارپوهان په دی پوهه سوی وه چې په دی سیمه کښې یوازی دیوی لیبرال دولت رامنځته کول دروسیې دپاره بلکی ګواښ نه وي او کیدی سی چې یوازی دمسکو دپاره یودسر درد وي اوبس ،اوهغه دیو ی غښتلی ګډاردو دځواکونوجوړه ول اورامنځته کول ترخپل واک اونفوذ لاندی به وي ،چې دغه طرحه په ګرجستان کې عملی سو.

په دی ډول سره واشینګټن دګرجستان دیرغل څخه پرسویلی اوستیای باندی چې دګرجستان دجمهور رئیس میخائیل ساکاشویلی په فرمان ترسره سواودغه یرغل صورت وموندکومه ګټه اوامتیازیې ترلاسه نکړاودګرجستان ځواکونه مخ ته تردی چې وخپلوموخوته ورسیږی ډېره ټینګه ماته یې وخوړله اوکوم وخت چې ګرجستانی سربازان بیرته دګرجستان پلازمینی تفلیس ته راوګرځیدل ډېر زرهدارټانکونه ،موټران اونظامی وسایل دتفلیس دپلازمینی پر شاوخواراګرځیدلی وه اوسربازان یې ټول وخپلوکورنوته تللی وه اوتښتیدلی وه اوټول نوموړی وسایط بیله سربازانوتش ولاړ وه .

بی بی سی نیوزولیکل : دګرجستان یرغل پراوستیای باندی داهسی یووخت رامنځته سو چې اطلاعاتی سرچینیو ډېرمخکې دقفقاز په سیمه کې دامریکا اودهغه دملګرو دنظامی لمسون څخه ډېر دقیق رپوټونه یې خپاره کړی وه . اودامریکا متحده ایالاتونه اوناټو،دګرجستان دولت یې په ډېرو زیاتووسلیوسمبال کړي وه اوهمدا ډول دګرجستان ونظامی ځواکونوته یې هم نظامی زده کړې ورکړي وه .

دجګړی دمخه امریکایی نظامی مشاورین په ګرجستان کې ځای پرځای سوي وه او دامریکا ددریم نمبر قول اردو د(۲۵) پنځه ویشتمی فرقی (۱۰۰۰) زرتنه توپک لرونکی افسرانواوسربازن په ګرجستان کې ګډنظامی مانور یې دګرجی سربازانواوافسرانوسره یوځای «دګرندی عکس العمل دعملیاتو» په نوم د دریو(۳) اونیوپه موده کښې دغه ګډمانور یې پای ته ورسول،اوپه دی دوره کې چې دګرجستان لخواپراوستیای باندی یرغل رامنځته سو،پینتاګون سل ګونی ټانکونه اوزرهپوښونه ،توپونه ،راکټ لنچرونه،لس ګونی هیلکوپټرونه او هوایې ضد راکټونه یې وګرجستان ته ور ولیږل .اوهمدارنګه په دغه موده کښې ډېرنور وسلی اومهمات دناټودغړیو هیوادونواوداسرائیل ددولت لخوا وګرجستان ته ور واستول سول ، انټرفاکس ولیکل : وقفقازته ددغه نظامی انتقالاتو ،استول اولیږل په داهسی یووخت کې ترسره کیږی چې ګرجستان په عراق کې دامریکا ترښکیلاک لاندی دریم هیواد دی چې ډېرسربازان لری او شمیریې و(۲۰۰۰) دووزروتنوته رسیږی کله چې امریکا په دی پوهه سواوپه دی پوهیدی چې دروسیی دبری خطرپیل سوی دی سمدلاسه یې ګرجستانی سربازان دعراق څخه وایستل اوخپل دهوایی امکاناتوپه وسیله یې په چټکی سره دګرجستان په هغوسیمو کښې یې ځای پرځای کړ چې هلته جګړه پیل سوی وه . ډېره په زړه پوری خودا دی چې لویدیز ی رسنی په خپل رپوټونوکې وویل چې موږ.دامریکا دنظامی ځواکونواونظامی مستشارانوترڅنګ دګرجستان و هیوادته لیږل سوی یو،اونورډېر امریکای نظامی اوامنیتی قطعات اوجزوتامونه دامریکایی خصوصی شرکتونواونورو ارګانونوپه چوکات کې ګرجستان ته په کارګمارل سوی وه ،دهمدی رپوټ پربنسټ اوسمهال څوزره نظامی مامورین ،دنړیوال مشاور،سیاسی کارپوهه اوتخنیکی مرستوترسرلیک لاندی په اوکراین اوګرجستان کې په کاربوخت دي . اودا به دواقعیت څخه لیری وی چې دروسیی استخباراتی او اطلاعاتی شبکی ددی مسئلی څخه بی خبره وي ،کرملین هرډول دغسی تړونونه اونظامی مرستی دپخوانی شوروی دجمهوریتونوسره په خپل ګاونډیتوب کې دناټودغړی هیوادونوسره دخپل هیواد وملی امنیت ته یولوی ګواښ بولی ،اودا دروسیی یوربنتینی اومسلم حق دی اوخپل دملی ګټودخوندی ساتلوپه خاطر هیڅکله هم دداهسی ډول لمسونکی نظامی سناریيوتربارلاندی نه ځي . /

(نوربیا،په یولسمه برخه کې ادامه لري)

**اخیځلیک :- دایسنا نیوز څخه ،او دmilitary.ir څخه .**